مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک
۲۰۲۳/۰۳/۰۳

# فتاوای احمد شاهي

ددې ليکني اړتيا مي د ښاغلي محمد داود مومند د يوې پوښتني او هغي ته د لنډجواب تر لوستلو وروسته محسوس کړه او ومي غوښتل چي محترم لوستونکي په تياره کي پرې نږدم. ځکه د مومند صاحب د پوښتني په جواب کي داسي ښوول سوي دي چي په احمدشاهي دربار کي د محمود الحسيني له " تاريخ احمد شاهي" او د پيرمحمد کاکړ له "معرفة الافغاني" پرته بل کتاب اصلاً کښل سوى نه دئ او د " فتاوای عالمگيري" په موجوديت کي د " فتاوای احمدشاهي" د ليکلو ضرورت هم نه وو.

لوى احمد شاه بابا(۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶هق) د معاصر افغانستان د منظم دولت د بنسټ اينوونکي په توگه د نورو عمراني ، عرفاني، علمي او ادبي چارو په اړخ کي له پارسي / دري ژبي پر څنگ پښتو ژبه هم له پامه نه وه غورځولي. په دغه ژبه ئي نه يوازي پخپله شعر وواېه او بشپړ ديوان ئي راته پرېښوو، بلکي په دولتي چارو کي ئي د هغي د رواجولو لومړني گامونه هم اخيستي ول. ده په محاکمو کي ئي د قاضيانو له پاره مولوي عبدالله کندهاري ته لاربښوونه کړې وه چي په پښتو ژبه يوه فتاوى ترتيب يا ترجمه کاندي. د بابا له امر سره سم مولوي عبدالله کندهاري په پښتو روان نثر يو فتاوى ترجمه کړه او نوم ئي" فتاوای احمدشاهي" پر کښېښوو. دا فتاوى پر بابونو او فصلونو وېشل سوي ده او د هر باب او فصل په منځ کي ئي بېلابېل مسئلي او د هغو جوابونه بيان کړي دي. د متن عمده برخي ئي د زکوة، روژې،حج، نکاح، راکړه ورکړه، خرڅول رانيول، غلاء، جهاد، شراکت، مضاربت، معاملات او نور متفرقه مسايل دي.

د فتاوای احمدشاهي په پيل کي تر منظوم حمد و ثنا (۴۶ بيته) وروسته د " فصل دئ په بيان د صفتونو د بادشاه دُرّ درّان" تر عنوان لاندي داسي راغلي دي:

ددى وقت بادشاه سني دئ
پـه مـذهب کښي حنفي دئ

مـحـبـت ئي د کـتـاب دئ
بي عدد و بي حساب دئ

دی پــخــپــلــه مــصــنــف دئ
په دي کار کښي ډېر منصف دئ

ڂـو ښـايسته ئي دي تصنيف
چي ئي کړای نه شم تعريف

چي ئي عـلـم لدني دئ
کوم عالِم دده ثاني دئ

په صورت او په سيرت کښي
هـم د فـکـر پـه دقـت کښي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سیال ئي نشته دئ یکتا دئ
پــه دي چارو بي همتا دئ

هـم عـالـِم دئ هم شاعر دئ
په نکتو کښي ډېر ماهر دئ

چي دده دېوان هیرا دئ
په تحقیق سره هیرا دئ

تـر هـیـرا بلکي فایـق دئ
مشتمل په (پر) دقایق دئ

هر غزل ئي عشق آویز دئ
او هر بیت ئي درد آمیز دئ

حقیقت دئ که مجاز دئ
دده دواړو سره ساز دئ

هـم پـه تـوره بـهادر دئ
په دي کار بي بها،دُر دئ

دین هرګوره ډېر تاریک وه
دغـه مـزی ډېـر بـاریک وه

ده د نمر په شان روښان کړ
ده محکم په څو څو شان کړ

حرص ئي ډېر ددین په کار دئ
ذوق ئي ډېـر ددي روزګـار دئ

دا ئي وفـرمـایـل ما ته
چي یو امر کوَمه تا ته

ما وي وایه اي بادشاه
خـمـا شـاه د دیـن پـناه

اي دلـیـل د اَدِلّـه وو
اي جلیل د اَجِلّه وو

*****

تـه بادشاه دُرّ دُرّان یي
عالي رایه عالیشان یي

هر هغه چي ستا خطاب دئ
هغه واړه پــه صـــواب دئ

وي ئي ډېر مین په (پر) دین یم
د افـغــان پـه کـار غـمـګـیـن یم

دا کــتــاب ورتـــه پـښـتـو کړه
په (پر) تا حکم کوم "هو" کړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ما وي هر چي ستا مامول دئ
پـه (پـر) لـیـمـو ځما قبول دئ

*****

مسـمـی پــه عـبـدالله یــم
دعاګوی د خپل بادشاه یم

الهي عـمـر ئــي ډېـر کـړي
دښمنان ئي واړه زېر کړي

*****

.

د فتاوای احمدشاهي یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کي تر ۱۳۲نمبر لاندي خوندي ده. د کاتب نوم په خرګند ډول کښلی نه دئ خو د کتابت کال ۱۱۹۹هـ ق دئ چي دا کال په قمري حساب د لوی احمد شاه بابا تر وفات دیارلس کاله وروسته زمانه ده. د نسخي د پاڼو شمېر ئي ۳۶۵ دئ (وګ : فهرست نسخ خطی پښتو آرشیف ملی افغانستان ، صـ۸۴ ، چاپ ۱۳۶۵ش)

دغه فتاوی د دهلي په " مطبع فاروقي" کي په ۱۳۲۲هـ ق کال چاپ سوې ده . زما سره ئي چي کومه چاپي نسخه سته، هغه ناقص الآخر معلومېږي خو د" پښتو نثر اته سوه کاله" بناغلي مولف ئي د ناشر له خوا اختتامیه خبري داسي را اخیستي دي :" ... فتاوای احمد شاهی که حسب فرمان واجب الاذعان ملک ناموس و مجاهد دین پرور، دادګستر اعنی سلطان احمدشاه درانی الغازی علامه زمان و فقیه دوران مولوی عبدالله خان قندهاری تصنیف فرمود."
(وګ : پښتو نثر اته سوه کاله ، صـ ۳۹۹، چاپ ۱۳۷۵ش)

د فتاوای احمد شاهي ددغه چاپ پر حاشیو باندي د " دُر مکنون" په نامه د آنحضرت<sup>ص</sup> د سیرت پښتو منظوم اثر چاپ سوی دئ. در مکنون د شیخ امام علامه شمس الدین ابوالفتح بن محمد بن احمد بن سیدالناس عربي اثر دئ چي " نورالعیون" ئي بللی دئ. دا کتاب شاولی الله دهلوی<sup>رح</sup> په فارسي ژبه د "سرورالمحزون" په نامه ترجمه کړی او د ړوب کاکړستان اوسېدونکي عبدالرحیم ابن قسیم ګل اخوندزاده په پښتو نثر ژباړلی دئ. (درمکنون ما د فتاوای احمدشاهي له حاشیو څخه استخراج کړ او له عربي اصل او فارسي ترجمي سره تر مقابلي وروسته مي له زیاتو حاشیو سره په ۱۳۹۵ش کال له کندهاره خپور کړ.)

اروابناد صدیق الله رشتین په " د پښتو نثر هنداره" صـ ۱۵۲ کي د فتاوای احمدشاهي مولف عبدالله نومی د میراحمدشاه رضواني غور نیکه بللی دئ چي د سهي کېدلو وړ تېروتنه ده. په ځینو ماخذو کي دغه عبدالله نامی له وکیل الدوله عبدالله خان سره مغالطه سوی دئ چي سهي خبره نه ده. وکیل الدوله شاعر وو خو د نثر نمونې زموږ په واک کي نسته.
دا وه هغه لنډ معلومات چي د " فتاوای احمد شاهي" کتاب په باب مي وړاندي کړل. هیله ده د یو چا به په درد وخوري.

آټاوا ـ کاناډا
د مارچ دریمه ۲۰۲۳ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ